مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۳/۰۹/۱۹

# د سولې او رڼاګانو هېواد

## (لنډه کیسه)

نن مو د دغه قاچاقي سفر خلويښتم ماښام و، چې د ژوند له ملګرې مې جلا له خپلو ماشومانو سره پیل کړی و او هغه راځنې د روسیې په مسکو ښار کې پاتې شو... له روسیې څخه د رومانیې په لور د کیشنوف په ښار کې درې اونۍ مو په ډېر ناوړه حالت کې تیرې کړې ، نهه لس ځل مو په ځنګل کې مزل وکړ او بیا په بیرته راوګرزیدو. تر څو په یوه لارۍ کې د موټر چلونکي شاته لکه قبر په څیر تنګ ځای کې موږ سره نور لس کسان پاس او لاندې شپږ ښځې،زما له اولادونو سره یو بل تنکي ځوان وو سره کښېنول، په دولسو ساعتونو کې، پرته له خوراک، د ډير و ستونزو په ګاللو سره د رومانیې یو ستر ښار ته یې ورسولو .په رومانیه کې له لسو ورځو وروسته د هغه مهال چکسلواکیا هېواد په لور له موږ سره د کابل ښار د وزیر اکبر خان روغتون یو ډاکټر له خپلې ځوانې لور سره ملګرې شو او په اور ګاډۍ کې پر ټوله لار درې ځل موږ سرحدي پولیسو ودرولو چې زما زوي اکبر ورسره هر ځل ډېغره وهله .د ځارنې او کنترول په لومړي او دويم ځای کې اکبر چې لږ څه انګریزي او هم یې روسې ژبه زده وه، له پولیسو سره خبرې او لانجې وکړې. په پای کې هغه ډاکټر اکبر ته کړه :اکبر جانه! زموږ پاسپورتونه خو سم دي، دوی پیسو ته سترګې نیولې، ټولې پیسې زه ورکوم، خو د سرحدي کنترول مسولینو سره لانجه مه کوه !اکبر کړه : ډاکټر صاحب! پوهیږم او ماته قاچاق کونکي هم ویلي، چې رشوت ورکوه، ما سره پیسې شته دی، خو راځنې وبه یې نه ګوري .د ډاکټر، تنده تروه شوه، ماته یې کړه :خورې! ستا زوي تنکي ځوان او بې تجربې دی، زه هیله کوم، چې موږ دغه پولیسو ته په لوي لاس مه ورکوئ .خو خبره زما له واکه وتلې وه، د ریل په واګون کې د خبرو وخت نه و.. همدا و چې اکبر په دریم کنترول ځای کې یې هم د چکسلواکیا دغه مامورين په وچ ډاګ پريښودل، یوه ټنګه یې هم ورنه کړه، په همدې ډول پراګ ته ورسیدو. هلته ډاکټر او لور چې هدف یې بل خوا و، له موږ جلا شول.

له پراګ څخه یوه نیمه اونۍ وروسته د آلمان په لور، پر سرحدي پوله په ځنګل کې یو ساعت او پنځه خلويښت دقیقې لار وه. د روانیدلو پر مهال، قاچاق کونکي، راته داسی څرګنده کړه :پوهیږئ، چې تاسې له دې ځایه باید په ډیره چټکه منډه لاړ شئ !دا کس د اصلي قاچاق کونکي استاذې و، هغه له موږ څخه درې کاله پخوا، زما د وړوکي زوي دوه نیم زره او نور له موږ هر یو تن نه پنځه زره ډالر د هوای سفر په نوم اخستې وو. دا درې کاله یې راباندې په نن او سبا کې تیر کړل، تل یې راته درواغ ویل. په دې شیبه کې زما زوي اکبر له دغه انساني قاچاق کونکي پوښتنه وکړه :هلته به زموږ لارښوونکي څوک وي؟ دغه سړي پرته له ځنډه، زموږ د ډاډ له پاره وویل :هغوي یوه تجربه لرونکې ډله ده، چې ټول چینایان دي .ماته هغه پیښه را یاده شوه، چې همدا څو ورځې وړاندې، د پراګ او آلمان په سرحد کې یوه مور له خپلو دوه بچیانو سره د ډېر ورښت له امله د خوړ اوبو ته لویدلې او ډوبه شوې وه. په همدې هکله مې ورته یادونه کوله، خو هغه خپل لاس پورته کړ، په امرانه لهجه یې زیاته کړه :د ډېرو تپوسونو وخت نه دی، روانیږئ په خیر او بله سپارښتنه یې دا وه:

پام کوئ د سړک پرغاړه د برلین نوم په ښکاره کیدلو سره دوکه نه شئ، چې موټر چلوونکي غږ وکړ، دا دی برلین او تاسې یې ومنئ. ځکه دوي ډير پناه غوښتونکي دوکه کړې، چې تر برلین پورې سل یو نیم سل کیلومتره واټن لري یې، له موټره ښکته کړي .دا سړې په عمر خلويښت کلن او یا ډیر و، چې خړه شپو یې په سر کړې او په خپلو لنډو بریتو کې ګوتې وهلې، هغه مهال مې را په یاد شو، چې مشر یې درې کاله پخوا له موږ ۲۵ زره ډالر واخیستل، په خپله مو بیا ونه لیده.اوس مو واوریدل، چې څو تنو په یو بند موټر کې ساه ورکړې، خلکو ویل، چې د دوي کسان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وو ...له دې خبرو وروسته يې موږ څلور واړه تر ځنګل پورې په يوه روسي والګا کې ورسولو، کله چې له موټره ښکته شو،هلته يوه بله افغانه کورنۍ هم وه چې يوه ځوانه ښځه او ځوان سړی، له يوې بوډۍ مور او دوه و ماشومانو سره وو .زه چې ډيرې انديښنې په سر اخيستې وم، ساه مې ډوبه ډوبه کيده، د ځنګل تر څنګ سړه او نمجنه هوا مې پر مخ ولګيده او يو څه مې حالت ښه شو. يوه نيمه مياشت کيده چې پر لار وو .په بيړه دغه پنځه کسيزې کورنۍ ډلې ته نږدې شوم. هغوي له موږ سره ستړې مه شې وکړه، دري تنه لويانو له موږ پوښتنې وکړې، چې له کومې لارې راغلي يوو، ځوانې ښځې راته وويل :پوهيږې! دا مو څلورم ځل دی. زما زړه بيا ولويده، بيواکه شوم او په کاواک حالت کې مې وپوښتله :څه، دا مو څلورم ځل دی؟ ځوانې ښځې کړه :هو څو څو ورځې مو په بنديخانه کې تيرې کړې، ځکه پوليسو نيولي وو. هغې لا خبرې کولې چې په دې شيبه يوه څلور کسيزه ډله، چې ټول په ونه ټيټکي او خنډې سرې وو له قمچينو سره مو مخې ته ودريدل، داسې چې ګواکې د زمکې له تله نابېره راوځي. دوه تنه مخکې او دوه مو تر شا روان شو او  موږ ته يې په نيمه روسي او انګريزي ژبه کې په اشارې سره مخامخ او څلورو خواو ته، هغه وړې په لسګونو پوځې کوټنۍ وښودلې، چې زموږ د تګ لار يې په منځ کې تيره شوې وه او په دې يې پوه کړو چې په دغه کوټنيو کې د چک جمهوريت سرحدي پولو څارونکي ناست دي   .ځواکمنې رڼا ګانې د څارنې په موخه چې له پورته هوا نه يې د تيارې زړه څيرې کوو او پر موږ شا او خوا راتاويدلې. دې کسانو موږ په داسې لارو تاو راتاوولو چې دا رڼا ګانې پر موږ ونه لړيږي   .خپل حالت ته مې پام شو او بيا زموږ د لارې مل کورنۍ ته، هغوي سره دوه وړوکي ماشومان وو او  زه مې له دريو ماشومانو سره وم، چې مشر مې ۱۶ او کشر مې شپږ کلن وو. ځان راته د هغوی په پرتله ځواکمن ښکاره شو او په پښو کې مې دم پيدا شو. وړوکي زويک ته مې دري پطلونه سر په سر اغوستې وو، له دې ويرې چې پر لارې راځنې ساړه ونه وهي .په چټکو قدمونو موږ ټول مخ په پورته روان شو، زه مې له ماشومانو سره په منډو وم، خو دغه کسانو په داسې يوې مخ پورته غونډۍ په منډه ورسم کړو، چې نږدې و زما زړه ودريږي. هغه زړه ښځه بې سده شوه او زوي يې په شا کړه .په يوه ساه د پورته غونډۍ سر ته په بيړه ختلو چې زما ساه بنده شوه او د تلو توان مې له لاسه ورکړ.

زما زوي اکبر غوښتل چې ما په شا کړي او خپل، د ورور، خور او زما د جامو بيکونه يې هم پر اوږه اړولي وو. هغه مې مخ پر وړاندې تګ ته ديکه کړ. په دې شيبه کې توخې ونيولم او زه چې له څو ورځو راهيسې زکام شوې وم، قدمونه مې ورو شو، دلته نا بېره د شا له خوا يو تن خنډکي سړی په ډير زور سره په قمچينه ووهلم. دا ګوزار ډير دردونکې وو، چې سرېې راباندې وګرزاوه او پښې مې سستې او اړو پر  شوې، خو په دغه اړو دوړ کې مې د خيال پر پرده  د څلور کاله پخوا حالت لکه د بريښنا جټکه راکړه. د کابل ښار په دننه کې مې د جګړې اور سترګو ته ودريده، چې دوه نيم کلن زوي به مې تولہ شپه، د خوب پر کټ په غيږ کې رپيده، د توغنديو باران کرۍ شپه زموږ د مکرويانو پر بلاک وريده. د جګړه مارو خپل منځې سيالو ډلو جګړې موږ ټولو ته له چاپيرياله د سره اور تنور جوړ کړی و. د خپل منځې جګړې د ګوليو ورولو څخه به ډير شمير توغندي زموږ په څير د کابل ښار بيوزله اوسيدونکو پر کورونو لړيدل او بيګناه وګړي به په کې لولپه کيدل...

اوس مې ليدل چې، ريدې زوي مې په ډير زور سره مخ پر وړاندې روان دی. زړه کې مې د رڼا څرک ولګيده، له ځان سره مې وويل: که خدای کول د سولې هېواد ته رسيږو .نن مازديګر چې له پراګ څخه روانيدلو، نو وړوکي ريدې بيا وويل: مور جانې !نور ځنګلونه خو نه شته او اوس به په موټر يا اور ګاډي کې سفر کوو. ما کړه :نه ګرانه! يو بل لا شته، دا به وروستي ځنګل وي. هغه ځنګلونه شميرلي وو. په روسيه کې د کشنيوف ښار او بيا د رومانيا په سرحد کې مو په ساعتونو په ځنګل کې منډې کړې وي. ما سره يې ځواب نه وو، سترګې مې ترې  واړولې، چې پام يې بدل شي. خو هغه پرېښودو والا نه وو، بيا مې زويک په ستومانه کتلو سره وويل :اوس خو به نور ځنګل نه وي کنه، دا څومره ډير دی، د سولې او رڼا ګانو ښار ته به کله رسيږو ...ما به په همدې خوشاله ساتو او تل به مې، ورته ويل: د سولې او رڼا ګانو ښار ته په رسيدو يوو، لږه لار پاتې ده،   موږ پر مخ تللو، د شاته کتلو وخت نه و، همداسې مخ پورته لاړو تر څو د غونډۍ سر ته په  نيم ساعت کې وختو. زموږ د ټولو ساه ګانې سوې وې او د خبرو کولو توان راسره نه و. د لږ شان دمې وخت يې هم رانه کړ او دغه کسانو لا هم مخ په ښکته لار راته ښودله چې دا بيا ډيره ستونزمنه نه وه، خو په موږ کې دم نه وو پاتې .هغه ځوان سړي خپله بې سده مور په شا کړې او پښې يې پر لاره راښکل کيدې. ځان مې وښوراوه چې اوس ډيره لار نه ده پاتې او په ډير زيار مې خپلو پښو ته زور ورکړ. ښکته چې ورسيدو، د چک له پوليسو لرې شو او د جرمني ساحې ته ورننږدي شو.

د ځنګل په منځ کې د باران تيزې شيبې راغلې، د ځنګل له ونو يې تيره څاڅکی تيريدل او زموږ پر مخونو لګيدل. په چقړو کې پر لمدو واخو خوېدلو. ماته د ځنګل منځ تياره او بوګنونکې  و او له ويرې مې شا او خوا مخ نه اړوه.  په دې شيبه کې مې خپل وړوکي زوي ته وکتل چې څو دا څو حوره جامې يې  لمدې او لا نورې هم درنې شوې، خو عجيبه دا وه چې پر تولہ لار  چټک روان و .د ځنګل له منځه  چې تير شو، دغه څلور واړه خنده کې سريو موږ ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

اشاره وکړه، دا دی جرمني خاوري ته ورسيدئ او په خپله لکه پيريان زموږ له سترګو پناه شو. موږ همداسي مخکي ولاړو او د خپل پخواني قاچاق کونکي سپارښتنه مو په ياد وه، چي د رخصتيدلو په پر مهال يې راته وويل :پام کوئ چي د ځنګل تر ځنګ يو لوي لارئ موټر ستاسی په انتظار کي ولاړ دی. هماغه موټر ته ټول يو ځاي پورته شئ او کله چي د برلين هواي ډګر ته ورسيدئ بيا له موټره ښکته شئ .ما تري وپوښتل :هلته به په څو ساعته کي رسيږو؟ هغه کړه :بايد په يو دوه ساعته کي ورسيږئ، خو په نيمه لار کي ترينه ښکته نه شئ .اکبر ترينه پوښتنه وکړه :دغه موټر چلوونکي خو به پوهيږی، چي موږ چيرته ورسوي؟

قاچاق کونکي په بيړه وويل: نه کنه! ډير کله داسی پيښ شوي، چي د سړک پر غاړه چي پر ولاړو تختو د برلين ښار ليکلی ښه ښکاره شی، نو مسافر له موټره ښکته کوي او ورته وايي، چي دا دی ورسيدلئ. حال دا چي تر برلين پوري سل يو نيم سل کيلومتره لار پاتي وي ...په دی شيبه کي ستر لارئ موټر له لري راښکاره شو او له موږ څخه زما زوي او د هغه کورنی سرې ورنږدي شو.

موټر چلوونکی ته يي ورکړل شوی نوم ووايه او هغه اشاره وکړه، چي موټر ته پورته شو .موږ وختلو او موټر روان شو .له يو دوه ساعته مزل وروسته موټر ودريده او دغه موټر چلوونکي چي په ونه تر دوه متره لوړ او په اوږو کي پلن سړي و، له موټر نه ښکته شو او خپل غټ خريلي سر يې د موټر له شاتنی برخي راښکاره کړ اشاره يې وکړه، چي ښکته شئ. دغه مهال ما خپل زوي اکبر ته هغه د قاچاق وړونکي سپارښتنه ورپه ياد کړه، نو هغه ژر ورته په روسي ژبه وويل :موږ هيڅکله نه ښکته کيږو، هغه سړی په ستنه موټر ته پورته شو او غږ يي کړ، چي موټر به روان نه کړي، که موږ ترينه ښکته نه شو. موږ ټولو شور جوړ کړ، خو هغه زموږ خبرو ته غوږ نه ايښوده او همداسي يې ټينګار کوو، چي ښکته شئ. زما زوي له موټره ښکته شو، د موټر مخي ته ورغی تر څو ورسره مخامخ وغږيږی، چي موږ اصلي ځاي ته ورسوي .موټر چلوونکي سره د اکبر غږ پورته شو او موږ هم په موټر کي دننه شور جوړ کړ. په دې شيبه کي په ناڅاپي ډول موټر روان شو او زما زوي اکبر يې پر سړک پريښود ...ما په زوره پرې غږ کړ چي ودروه!، خو موټر په بيړه رهي شو او زه ويري واخيستم، ماويل څه لکه چي زوي مي لاړ پاتي شو. خو ۱۲ کلني لور ډيوي مي د خپل ورور نوم ياد کړ او په ټول توان يي ناري کړي: اکبر ورور مي پاتي شو اکبر ورور. بيا يي لا پسي په زوره اواز وکړ: اکبر ورور مي، اکبر ورور، موټر ودروه، ودروه. د غږ توان يي له ويري او خواشينی دومره ډير وو، چي ټوله لارئ وښوروله، په دی شيبه کي موټر چلوونکي هم وويريده چي دومره شور ماشور به پر سړک تيريدونکو موټرو کي خلک خبر کړي، نو موټر يي ودراوه .اکبر موټر ته پورته شو او ايله بيله مي زړه ولګيده، په بدن کي مي ساه وچليده. موږ وروسته له دري ساعته سفر څخه د برلين هوای ډګر څنګ کي ترينه ښکته شو. هيڅوک نه ښکاريدل، په هواي ډګر کي ټول چاپيرايل روښانه و او سباوون ته لږې شيبي پاتي وې، وړوکي زوي زيدې چي د موټر په منځ کي خوب وړی و، سترګي يي پرانيستي او په ډيره خوښی يي غږ کړ، دا دی د سولي او د رڼا ګانو ښار...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ